# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO » پیژندنه !


**دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه**
**ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل**


## شپاړلسمه برخه :

## دروسیې اوامریکا دتوغندیولوبه دناټودلړلیدد مخی !



*په منځنی اسیا کې دناټو درئیس دخاص استازی سره په خبراتروکې وڅیړل سو*

په ختیځی اروپاکې دواشینګټن د توغندیو ضد سیستم ځای پر ځای کول اودشمالی اتلانتیک تړون ناټوسازمان دپراختیا کیدوطرح اوپلان دختیځ پرلور دروسیې دښکاره خوابدتیا اوزیات خشم درامنځته کیدلوسبب له دی کبله رامنځته سوی دی چې خپل ملی امنیت مخامخ دګواښ اودخطر په وړاندی وینی اوددی پایلی په نیتجه کښې برسیره ددوبی دموسم پرپنځه ورځنې جګړه دتفلیس اومسکوترمنځ پرسویلی اوستیای باندی دواکداری په خاطر اوهمدارنګه په نړیواله کچه دامریکا اوروسیې ترمنځ دډیپلوماتیکی تندو خبراترو سبب هم وګرځیدی .
رابرت سیمونس دقفقازپه سویلی برخواوپه منځنی اسیاکې دناټودرئیس دخاص استازی په توګه دانټرفکس سره دروسیې اوناټودشورا دکاردپیل کیدواوددی اتحادی داړیکوپراختیا دروسیې دفیدراتیف سره داوکرائین اودګرجستان دمسئلی په هکله په دی نظامي تړون کې دغړیتوب دپاره اوهمدارنګه په

افغانستان کې دمرستی دپاره خبراتری اوځرگندونی صورت موندلی په دی اړه یې څه چې یې ویلی دی نوددی پوښتنواوځوابونو متن په لاندی ډول سره دی :
* پوښتنه : دروسیې دبهرنی چارو وزارت اعلان وکړ ،پردی دلیل باندی واکرائین اوگرجستان ته دغړیتوب په هکله پیل کیدونکی وړاندیز یې ددی پاره نه وورامنځته کړی چې ددی هیوادونودورتگ اوغړیتوب سره سم یوډول خطروائتلاف ته دغړیوهیوادونوپه منځ کې رامنځته سي .ایا تاسی ددی خبروسره موافق یاست؟
رابرت سیمونس په ځواب کې وایی : نه زه داهسی نه وایم .یوازی وناټوته دغړیتوب دمسئلی دوړاندیزپیل اوتیاری ترډېره حده زیات سیاسی سوی دی . موږپرټولو اړینو مسایلوباندی خبری کوواوبیاهغه ترسره کووترڅوچې په بخارست کې دناټوپه سرمشریزه غونډه کې دغه موضوعات ځرگنده سواوبیانه غواړو دهغه سیاسی بهیرپه نظرکې لرلوسره چې دغه مسائل یې رامنځته کړی دی دغه بهیر اوږد کړو.
مسئله خودانه وو چې ایا دوړاندیزپیل اوتیاری واوکرائین اوگرجستان ته دغړیتوب دپاره ورکول کیږی او که نه . مگرمسئله خودا وو چې موږڅنگه کولای سو ددی دووهیوادونوڅخه چې غواړي دناټوغړي دی سي د دوي ددغو موخو څخه ملاتړ وکړو.
* پوښتنه ستاسود لړلیدد مخی وناټوته داکرائین اوگرجستان دغړیتوب دمنلوسره بیله دوړاندیز دپیل اوتیاری دترسره کولودبهیرڅخه ،غړیتوب ځرنگه دی ؟ .

سیمونس په ځواب کې وایی : په (۱۹۹۵ ) م کال کې دناټوپه سازمان کې یوه څیړنه ترسره سوه چې په هغه څیړنی کې وناټوته دگډون اوغړیتوب دپاره یولړ مسائل اومعیارونه مشخص اوپه ډاگه سول .دغه معیارونه ،وناټوته دغړیتوب اوگډون کلی دی (چې دغه ترلی میعارونه په خلاصیدای سی ) اوددغومعیارونودجملی څخه یوهم داړینواصلاحاتوترسره کولو دی . همدارنگه په دی څیړنه کې وروستی کیدونکی پیل چې وناټوته نوماندی هیوادونه دگډون اوغړیتوب دپاره یې ترسره کړی هغه هم مشخص سوي دي . داچې کوم بهیرپه ښکاره توگه سره ترسره کیږی اوبل داچې ځرنگه نوماندی هیواد وناټوته دغړیتوب دپاره به رانږدی سي . دغه مسئلی په هغه نوماندی هیواد پوری اړه لري .اوډېر مهم شی خودا دی چې دا هغه معیارونه دي چې یو هیواد هرومرومشخص وړاندیزونه یې ترسره کړی وي .

*پوښتنه دناټودغړیوهیوادونودبهرنی چارودوزیرانوپه دا ورستی کتنه کې دناټو- گرجستان اوناټو – اوکرائین دیوی کمیسون په چوکاټ کې دغه پریکړه ونیول سول چې ددی هیوادونوکورنۍ کلنۍ ملی طرحی او وړاندیزونه واتئلاف دی ورداخل سی . ددی کړنلارواصلی موضوعات څه شی اوکوم مطالب دي ؟ .

رابرت سیمونس په ځواب کې وایی : ما هم هغسی چې وویل ډېرمهم شی دا دی ، داهغه معیارونه دي چې په (۱۹۹۵) میلادی کال کې انځور سوی اورامنځته سوی دي .کلنی ملی وړاندیزونه اوطرحی ددغومعیارونوپربنسټ باندی به رامنځته او جوړیږی .پیل کیدونکی ځرگنده ونی به راڅرگنده سی چې یوهیواد باید هغه ترسره کړی . په مجازی توگه یې ووایم ،دغه ملی وړاندیزونه اوطرحی دکړنواودکارونو یولیست به وگرځي .

* پوښتنه : په گرجستان او اکرائین کې یوشمیر سیاست پوهان دغه ملی کړنلاری یې دوړاندیزونوپیل او تیاری د غړیتوب دپاره بولی . ایا دا هغه ډول دي که یا؟ .

رابرت سیمونس په ځواب کې وایی : هوپه همدی ډول سره به ددغوموخوپه ټاکلوسره د(۱۹۹۵) دمعیارونوپربنسټ به دعمل جامه واغوندی اوکولای سوچې دغه کلنۍ ملی کړنلاری دغړیتوب

دوړاندیزونودپیل اوتیاری سره یې مقایسه کړو ،مګرد رسمیاتو له کبله ددغووړاندیزونوپیل اوتیاری غړیتوب ندی .

* پوښتنه :ایا ناټو به دقفقاز دپیښوپه اړه خپل دپریکړی په هکله په منځنی اسیا اودقفقازپه سیمه کښې دنظامي اډیوپرجوړه ولوباندی دسره غور ونکړي ؟.

سیمونس په ځواب کې وایی : زموږسیاست به بدلون ونه مومی . موږپه (۱۹۹۸) میلادی کال کې یولړالزامات دځان دپاره جوړارامنځته کړی دی اودهغه الزاماتووکړنواووترسره کولوته ادامه ورکوو اوهغه دمتعارفووسلیواوستروځواکونودپلاوونه ځای پرځای کولوپه دایمی توګه سره دنویوغړیوپه خاوراومځکوکښې دي اوموږپر دغه سیاست باندی ولاړیو.

* پوښتنه : دمعلوماتوپربنسټ ،پریکړه سویدی چې بل ځل دی دروسیی – ناټودشورا کار دی پیل سی. اوترکله به انتظاروباسوچې دناټواومسکوکنګل سوی اړیکی دی اوبه سی ؟ ایا ممکنه ده چې په راتلونکی میاشتوکښې دی ښاغلی یاپ دوهوپ شیفر دشمالی اتلانتیک (ناټو) عمومی رئیس دی ومسکوته سفر وکړی ،ځکه څرګنده سوي دی چې دقفقازدپیښوپر بنسټ اوپردغه دلیل باندی و روسیی ته دده دغه سفر شاته غورځول سوي دی .

رابرت سیمونس په ځواب کې وایی : ددی دپاره چې دناټوعمومی رئیس دمسکوڅخه لیدنه اوکتنه ترسره کړی دروسیی ددولت دخواوبلنلیک ته اړتیا سته دی .اوموږتراوسه پوری داهسی یوبلن لیک موندی ترلاسه کړی ،مګردناټودبهرنیوچارودوزیرانودغونډی دوروستی بیانی په متن کې ویل سی دی،دخپل سنجول سوی پلان اوکړنلاړی په حفظولوسره دروسیی سره دمرستوپه اړه ،پړاوپه پړاو تیاریو اودغه واک وعمومی رئیس یاپ دوهوپ شیفر ته ورکول سویدی ترڅوپه سیاسی سطحه کې دروسیی دمشرانوسره اړیکی ټینګی کړی .اوهیله مندیم چې دغه امر په نږدی راتلوونکی کې رامنځته سي .

په همدی ډول سره موږ موافقی ته سره ورسیدلوچې غیر رسمی خبراتری په بروکسیل کې دروسیی – ناټوپه شوراکې کوم وخت چې موږدخپل روسیی همکارانوموافقه ترلاسه کړو دغه شورابه بیرته پرانستل سی .

* پوښتنه دافغـــان رسنیـــــوداطلاعـــاتوپربنسټ، امریکا وافغـــانستان ته دخـــپلونظامیانو دلوژستیکی اکمالاتودپاره یوبل واریانټ،دترانزیتی نوی لاري دخلاصول دڅیړنی په حال کې دی ،بیله داچې وروسیی ته توجووکړی . اوپه خاصه توګه سره همداسیموضوعات رپوټ سویدی چې تفلیس وناټوته وړاندیز کړی دی چې دپتی دبندرڅخه دی ناټودلوژستیکی اکمالاتودترانزیت دپاره کارواخلی .ایا هم داهسی دی ؟ .

سیمونس په ځواب کې وایی : داصلی لاره پرځای باندی چې اصلی لاره دپاکستان له طریقه وو چې کابودپروخت موددی لاری نه کار اوګټه واخیستل ،او ددی لاری پرځای بله لاره دروسیی له لوری دی چې موږدبخارست په غونډه کښې ددی لاري په هکله په توافق سره ورسیدو.موږاوسمهال دهمدغسی نور یوشان ته مواققت لیکنواوقراردادونو په ترلاسه کولوکې د قزاقستان، ازبکستان، بلاروس او اوکراین سره موافقی رسیدلی یو اودغه نوی لاري به موږته اجازه راکړی ترڅوداوسپنی دپټلی په وسیله په افغانستان کې ومیشته ائتلافی ځواکونوته دروسیی دخاوری اودنوموړو هیوادونودلاری څخه لوژستیکی اکمالات ترسره کړو .

* پوښتنه یعنی دغه رپوټونه ربښتیا ندی ؟

رابرت سیمونس په ځواب کې وایی زه دامریکا دلوری خبری نه کوم بلکی دناټودلوری کارترسره کوم دناټودپاره ددندو دترسره کولوهغه لاره اوکړنه په لمړی سر کې ځای لری چې همدا اوس مې تاسوته وویل .

* پوښتنه په ټولیز ډول سره دروسیی سره دمرستواوسنی سطحه په افغانستان کې څه دي؟. سیمونس په ځواب کې وایی : کابود(روسیی) سره مرسته په افغانستان کې ښه پرمخ ځي. موږ دروسیی یو وړاندیزموترلاسه کړی دی چې وموږته اجازه راکوی چې دغسی مرستوته عملی بڼه ورکړو او داهم طبیعی ده چې موږنه سوکولای یوازی دروسیی دلاری څخه خپل لوژستیکی اکمالات وکړو موږدترانزیت په رامنځته کولوکې دیورتنی هیوادپه خاوره کې دنوموړی هیوادونو سره خبری کوو او دې ته اړتیا لرو اوهیله مندیم چې موږ وتوانیږوپه نږد ی راتلوونکی کې دټولوهیوادونوپه ګډون سره په دی هکله یوه ګډه غونډه ولرو اوپه دی باندی وپوهیږو چې څرنګه کیدی سی زموږمرستی ډیرپراختیا ومومی . موږدنوموړی هیوادونه څخه چې زموږنه یې ملاترکړی له دی کبله مننه کوم اوپه افغانستان کې یوه بله مهمه مسئله دمخدره توکوپرضدمبارزه کې اوپه خاص ډول سره دیوشمیرمتخصصینو ښوونه اوروزنه ده چې دمخدره توکوپرضدپه مبارزه کې ونډه اوبرخه واخلی و موږچندانی لویه ستونزه نه لرل ،مګردا اوس مهال بریالی سوی یو دافغان دهغودفترونوپه مرستی سره چې په مسکوکې همدا اوس په زده کړوبوخت دی بری ترلاسه کړو .

* دناټو لړلید داروپادمتعارفووسلیوقراردادکوونکوهیوادونودغونډی پرانستل داوسنی ستونزودپاره څه دی ؟ په روسیه کې اغلبآلړلید دوروستنی وتلو ګټه ددی قرارداده څخه دی .ستاسی لړلید په دی هکله څرنګه دی ؟ .

سیمونس په ځواب کې وایی : ددی رسمی غونډی پرانستل اوس مهال ددی څرګندوی وو چې دغه قرارداد وخپل شتوالی ته یې دپای ټکی کښیښود اودا ښه کار نه وو.زه ډیرزیات ودی پریکړی ته اهمت ورکوم اوپرځای وایم چې تراوسه پوری شته والی لري ،یولړپریکړی اوغیر رسمی اړیکی داوسنی مسائلو دمنځه وړلودپاره هم رامنځته سویدی .

* پوښتنه ستاسو په نظر ایا دروسیی - ناټومرستی دتوغندیود دفاعی سیستم په حوزه کې ادامه به وموموی اویا داچې دتندواختلافونوپه ټاکلو سره به دامریکا دتوغندیوضدسیستم داجزاوپه اړه په اروپا کې هیڅ معنا ونلري ؟.

رابرت سیمونس په ځواب کې وایی : موږ تل زیارایستلی ترڅوپرسپیځلتیااوشفافیت باندی تکیه وکړو.موږددروسیی ،امریکا اودناټوداستازوپه ګډون سره څلور،پینځه غونډی مولرلی اوموږغوښتل چې کیدونکی پیل په دی اړه ادامه پیداکړی ترڅودتوغندیو ددفاعی سیستم په هکله داهسی انګیرنی رامنځته نه سی حتی کوم وخت چې کار نه دی ترسره سوی اوښکاره توګه څرګنده ده چې دهغه پیل څخه هم داهسی شی نه وو ، دګرجستان دپیښی وروسته موږکاملآ کولای سوای چې یوهمداشان غونډه په دقیقه توګه سره دسپیځلتیا اوشفافیت نه په ملاترسره پرانیزو.

* پوښتنه دناټوعمومی رئیس دکالینینګراد په ولایت کې داسکندرپه نوم توغندیوځای پرځای کول یې چې دروسیی لخوا ترسره سو په دی هکله یې خپله خواشینی څرګنده کړ ، په ائتلاف کې هم اویوشمیرسرچینی اعلان وکړ چې دغه امر به بی ځوابه پاته نه سي . نوکیدی سی چې ووایست دناټوځواب به څرنګه وي ؟ .

سیمونس په ځواب کې وایی : کله چې دغه خبره دروسیی دجمهور رئیس دیمیتری مدودف لخوا وویل سو ، دروسیی دبهرنی چارو وزارت اعلان یې وکړ چې دغه مسئله لاتراوسه ترڅیرنی لاندی دی اووروستی پریکړه په دی هکله لاتراوسه پوری ندی رامنځته سوي .هیله مندیم چې روسیه دغه مسئله په ځیر سره ترڅیړنی لاندی ونیسی ، ځکه په هغه صورت کې که داسکندردتوغندیوسیستم د کالینینګرادپه ولایت کې ځای پرځای سي ،روسیی لوری دامنیتی حوزی وړاندیز یې چې دروسیی اودامریکا جمهور رئیسانودنهویمی(۹۰می) لسیزی په پیل کې یې لاسلیک کړی وه که لدی څخه یې خبری کړی وي نودروسیی دغه کړنه به دغه لاسلیک نقض کړی . په همدی ډول خبروکې داتومی اوهستوی توغندیوپرمرکزی زریموباندی هم خبراتری رامنځته سول ،یوبل ځل ټینګار کوم اوهیله مندیم چې روسیی لوری دی په ډېر ځیر سره دغه مسائل ترڅیرنی لاندی ونیسی اوناتودی مجبوره نه سی چې دروسیی ددی کیدونکی پیل په وړاندی ځواب ورکړی .

# مسکو یو ځل بیا واشنګټن ته ګواښ وکړ:

د روسیې د دفاع چارو وزیر اناتولي سردیوکوف د(۱۸-۳-۲۰۰۹) کال دمارچ دمیاشتی پر اتلسمه نیټه باندی ویلي ښایي چې حکومت یې ډیر ژر د امریکا پر وړاندې سخت دریځ غوره کړي. نوموړي امریکا د روسیې په ګرد چاپیر پرتو پولو کې د خپل پوځي شتون په پراخولو تورنه کړه .نوموړي چې د ولسمشر دیمیتري میدفیدوف او یو شمیر روسي پوځي افسرانو په ګډون په یوه جوړه شوي غونډه کې وینا کوله وویل: « امریکا غواړي د پخواني شوروي په جمهوریتونو کې انرژۍ، خواړه او طبیعي زیرمې تر لاسه کړي خو روسیه به دغه کار ته پټه خوله پاتې نه شي او پر وړاندي به یې له سخت دریځ څخه کار واخلي». ټاکل شوي چې د بارک اوباما او دیمیتري میدویدوف په راتلوونکي لیدنه اوکتنه کې چې په امریکې کې تر سره کیږي دواړه لوري د نورو مسایلو سربیره پرپورتنی مسئلوباندی هم خبري وکړی .

## قزاقستان وویل د امریکا د توغندیو ضد سیستم د ځای پر ځای کولو په مقابل کې د روسیې غبرګون د تفاهم وړ دی :

د روسیې دانټرفاکس أژانس د رواني میاشتي پر یوویشتنه نیټه باندی خبر ورکړ چې د قزاقستان ولس مشر نورسلطان نظربایف په دې وروستیو ورځو کې د روسي خبري رسنیو سره دیوی مرکې په ترڅ کې وویل د امریکا د توغندیو ضد سیستم د ځای پر ځای کولو په وړاندی د روسیې غبرګون د تفاهم وړ دی .

په دې وروستیو ورځو کې د روسیې ولس مشر څرګنده کړه چې روسیه به دکالینینګراد په ولایت کې داسکندرپه نوم نوی توغندي ځاي پر ځاي کړي .نظربایف په دې هکله وویل روسیې ته نږدې د امریکا لخوا د توغندیو ضد سیستم ځاي پر ځاي کیدل به طبعأ د روسیې د اندیښنې لامل وګرځي . اودا یوعادي کار دی او د پوهاوي وړ هم دی چې روسیه د ځان د دفاع او د خپلو خلکو ډاډمنتیا ته اړتیا لري .

نورسلطان نظربایف هیله څرګنده کړه چې د امریکا نوی دولت او روسیه د دواړو هیوادونو تر منځ د خړاوپړو اړیکو د ښه والي دپاره دحل لارې چارې مونډلی سی .اروپایي هیوادونه هم باید په دې باندی ښه سوچ وکړي چې ګواښونه دکوم ځای او کومې خوا څخه راځي .

(نوربیا،په اوه لسمه برخه کي ادامه لري) اخیځلیک : د افتاب نیوزڅخه اوریانووستی